**مطبوعاتي اعلاميه**

**حوثي وسله وال باید د حزب التحریر ځوانان ازاد او پر هغوی له ظلمه لاس واخلي!**

**(ژباړه)**



حوثي وسله والې ډلې د حزب التحریر-ولایه یمن غړی، ۳۷ کلن نشوان جسار نېولی. دا په داسې حال کې ده، چې جسار به د یمن پایتخت صنعا ښار کې له امامانو سره د خلافت د سقوط په اړه، چې د ۱۳۴۲هـ.ق کال د رجب پر ۲۸مه چې د ۱۹۲۴م کال د مارچ له درېیمې سره سمون خوري؛ لیدنې او خبرې اترې کولې. د غه خبرې او لیدنې د ۲۰۱۷م کال د اپرېل له اتمې راهیسې د پولیسو تر څارنې لاندې وې. بلاخره د حوثیانو له خوا د ده د نیول کېدو لامل شوې. ده په خپلو لیدنو کې له دغه حالت نه د وتلو لپاره، چې هېواد یې د انګلیس او امریکا تر فشار لاندې دی؛ په سیمه ییزو او محلي وسایلو د یمن خلک تقریبا د یو کال راهیسې د طبیعي بلاوو، وژنو، ویجاړیو، وچکالیو، ناروغیو، د بنسټونو هر اړخیز فلج، د خدمتونو بندېدو او حقونو نه ورکولو له امله دوی ته یوه موثره اسلامي طرحه وړاندې کوله.

خلک تښتونه، شکنجه، د کورنیو له خبرېدو پرته د اوږدې مودې لپاره د خلکو نادرکه کېدل او د با انصافه محکمو نشت، یو جنایتکارانه عمل دی. دا خپله د ګډوډ او خراب وضعیت ښکارندوی دی، چې د دغه سیمه ییزو پوځیانو تر کنټرول لاندې سیمه کې تجربه کېږي. سره له دې زندانیان د انسانانو په توګه د انساني پاملرنې له نشت څخه سر ټکوي؛ هغه غذایي توکي چې دوی ته ورکوي، د بسنې وړ نه دي او یوازې ورباندې ژوندي وي. همدارنګه په زندان کې ډېری ناروغ زندانیان د اړتیا مطابق په کافي اندازه دارو او طبي لوازمو ته لاسرسی نه لري. په اسلام کې د

زندانیانو ځورول او ورباندې د اسلام تحمیلول روا نه دي او بر عکس په نرمۍ او نیکۍ ورته امر کوي. د هغه خلکو په اړه، چې دغو کسانو نیولي، له ټولو جگړییزو حزبونو څخه چې مسلمان دي ډېرو یې تر اوسه ثابته کړې نه ده، چې گنهگار دي که بې گناه. نو چېرته دي د دوی د عمومي بښنې وعده او خیالي قوانین او کمیټې؟

موږ د هغو کسانو د ازادولو غوښتونکي یو، چې بې گناه نیول شوي دي، ځکه چې په اسلام کې د اسلامي دولت په واسطه د خلکو وېرول او د مسلمانو او غیر مسلمانو ښاریانو په منځ کې جاوسوسي کول روا نه دي؛ خو که ثبوت شي، چې دوی د مسلمان دښمنو دولتونو سره اړیکه لرله؛ وروسته باید د هغه څه مطابق جزا ورکړل شي، چې اسلام یې حکم کوي؛ نه د غیر اسلامي حکومتونو د حکم پر اساس، چې د غرب د استعماري نظامونو او فاسد تمدن څخه رامنځته شوي دي.

دوی چې غواړي د خلکو د چارو ساتنه وکړي، باید کورونو ته له ورونو څخه داخل شي او د یمن خلک دې د اسلام پر اساس (قرآن او سنت) باندې باوري کړي؛ خو هغه کسان چې له کافر غرب څخه په جمهوري، سیکولر، دموکراتیک او فرقه یي نظامونو پیروي کوي او وروسته له الله سبحانه وتعالی څخه کامیابي غواړي، پوه دې شي چې دغه کار یې له اسلام او اسلامي نظام څخه، چې د ژوند له مسایلو سره اړیکې لري، فرسنگونه لرې دی او څه شی یې له خپلو مخکینیو نظامونو څخه نه دي تغیر کړي، بلکې په بې پروا، کبر او فاسد ډول خپلې کړنې زیاتوي.

په همدې ډول موږ د نشوان جسار ورور آزادي غواړو، د دې لپاره چې دی د هغو کسانو له ډلې څخه و، چې د باطل پر وړاندې له حق څخه د پیروۍ لپاره پورته شوی و او له اوسنیو ستونزو څخه د خپلې خاورې د ایستلو لپاره یې هیڅ ډول اقدام ونه سپماوه. جسار په حقیقت کې ورځ په ورځ د حقیقت کلام لېږداوه او له دغه کړکېچه یې د خپلې خاورې د ایستلو لپاره طرحه درلوده؛ خو برعکس هغه یې زنداني کړ او تهمت یې ورپورې وتاړه.

حزب التحریر یو مجهول الهویت حزب نه دی؛ بلکه یو نړیوال حزب دی، چې د نړۍ له څلوېښتو څخه په ډېرو هېوادونو کې د اسلامي خلافت د رامنځته کولو لپاره هڅه کوي او له هر ډول فزیکي عمل سره لکه د وسلو لېږد، گډوډۍ او نور تروریستي اعمال، چې له چې په ښکاره له اسلام سره مخالفت ولري، مخالف دی او دښمني ورسره لري. حزب التحریر هغه ډله ده، چې د اسلام پر اساس ثابته شوې او د مسلمانانو تر منځ د یووالي د حاکمولو لپاره، د نبوت پر منهج د خلافت تر بیرغ لاندې، هڅه کوي او د ټولنې د بدلون په لاره کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقې پر اساس دعوت کوي؛ په هغه ډول چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم به اسلامي دعوت خلکو ته د زده کړې او قناعت په ورکولو سره په ټولنه کې د فکري او سیاسی مبارزو له لارې پر مخ وړه او د قدرت له

څښتنانو څخه يې د مرستې غوښتنه کوله، چې په پايله کې د الله سبحانه وتعالى په غوښتنې سره په دې لار کې کامياب شو او دولت يې تاسيس کړ.

نو پر همدغه اساس حزب التحرير د جليل القدر عالم شيخ تقي الدين النبهاني رحمه الله له لوري د دې طريقې پر اساس په ۱۹۵۳م کال په فلسطين کې تاسيس شو. حزب التحرير په اسلامي امت کې د مصلحت او خلاصون اصل دی. حزب التحرير يو وطنپال، ملیپال، فرقه يي، نژادي يا سيمه ييز حزب نه دی؛ بلکه مبدء يې اسلام جوړه کړې او افراد يې د اسلامي عقيدې پر اساس يو له بله وروڼه دي. په داسې حال کې چې د مصنوعي پولو شتون او د مسلمانانو وېشنې د دې کار لپاره زمينه سخته کړې ده؛ خو متاسفانه نن ورځ داسې کسان وينو، چې متصل دغه عناوين لېږدوي او د يمن په خلکو کې يې د هغو د خپرولو لپاره هيڅ هڅه نه سپموي. دغه جګړې، ګډوډۍ، ناآرامۍ، نيول او فتنې د هغه څه برخه ده، چې استعماري غرب غواړي د هغه له لارې په اسلامي خاورو کې خپلو شومو اهدافو ته ورسيږي.

که څه هم چې په يمن کې د دغو دښمنو احزابو تر منځ جګړه يوه سياسي استعماري جګړه ده، چې په واقعيت کې يې لوی قدرتونه په ځانګړې توګه انګليس او امريکا يې ملاتړ کوي او له بل لوري په يمن کې نفوذ او مالي قدرت په ځنګ کې نيسي. الله سبحانه وتعالى له هغه څه چې ظالمان يې سرته رسوي، ناخبره نه دی. مهمه نه دي، هغه جامې چې ظالمان يې اغوندي، څومره اوږدې دي او الله سبحانه وتعالى ورته د دوی په سرکشۍ کې مهلت ورکوي، ترڅو حجت پر خپل ځان تمام کړي.

که چېرې الله سبحانه وتعالى ځينې پر ځينو نورو حاکموي، دا صرف ستاسو لپاره امتحان دی، ترڅو ووينئ چې کوم يو له تاسو څخه سم کار تر سره کوي. تر ټولو بده ماتې هغه وخت ده، چې يوه ډله پر خلکو غالبيږي او فکر کوي چې د الله سبحانه وتعالى له لوري ځواکمنه شوې ده، وروسته قدرت او واک په خورا ناوړه ډېره کې ښکاره کوي، په خلکو يې تحميلوي او له هغو دروغجنو شعارونو سره يې، چې په واقعيت کې د اسلامي امت د له منځه وړلو لپاره جوړ شوي دي، منعکسوي.

نو حزب التحرير به په حقيقت کې ثابت پاتې شي، د هغه په لټه کې به وي او د سرک د هسکو او ټيټو پروا نه لري. زيات شمېر ظالم حکام وو، چې د حزب د آواز د چوپولو لپاره را ولاړ شوي وو؛ خو حقيقت پاتې شو او دوی له منځه لاړل. الله سبحانه وتعالى په خپل امر کې غالب دی او ظالمانو ته به ماتې ورکړي، تر هغه وخته چې د نبوت پر منهج خلافت تاسيس شي.

﴿وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [يوسف: ۲۱]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی پر خپل کار برلاسی دی، خو زیاتره کسان نه پوهېږي.*

**د حزب التحریر- ولایه یمن مطبوعاتي دفتر**

**شمېره: HTY۱۴۳۸/۱۰**

**۱۴۳۸هـ ق، د ذی القعدې ۲مه**

**د ۲۰۱۷م، د جولای ۲۵مه**